مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۱/۰۴/۱۲

# د پاکستان دولتي ترهګرۍ په وړاندې د پښتون ژغورنې غورځنګ درې کلنې سوله ییزې مبارزې شننه او څېړنه

دویمه او ورستۍ برخه

## د پي ټي ایم مشران ګواښل، غیر قانوني نیول، شکنجه کول او بېګناه وژل:

پاکستان د خپلو دولتي تروریزم په چوکاټ کې د ځو لسیزو راهیسې په لویه پښتونخوا او ازاده قبایلي سیمه کې د پښتنو د لړکیو په وړاندې توکم وژنه پیل کړې ده. د پښتنو په وړاندې د پاکستاني ریاست د ترهګرۍ تاریخ د بابړې پیښې رانیولې تر شهید نقیب الله محسود، شهید ارمان لوڼي، عارف پښتین او په زرګونو نورو پښتنو بې ګناه وژنو او ځورونو اوږد خونړۍ تاریخ دی. په شمالي وزیرستان کې د خیسور په کلي کې یوې پښتنې کلیوالې ښځې د پنجابي یرغلګرو پوځیانو د بې ناموسي او ظلمونو خلاف خپل غږ پورته کولو سره ټولو ته پته ولګیده، چې دلته د بې عزتي او بې ناموسي حد تر کومه ځایه رسیدلی دی.
د خړ کمر چېک پوست پېښه کې د پوځ په ډزو کې ۱۳ سوله پال ملکیان ووژل شول او د پي ټي ایم ۲۵ غړي ونیول شول او د تحریک مرکزي مخکښ مشران علي وزیر او محسن داوړ ونیول شول. د پښتون وژنې ورستې زړه بوګنونکې پېښه په شمالي وزیرستان کې د جانیخیلو څلور تنکې ځوانان په ډیره بې رحمه توګه ووژل شول، چې د دې څلورو وژل شویو تنکیو ځوانانو عمرونه د دولسو څخه تر اتلسو کلونو پورې وه. د مړو شویو هلکانو د خپلوانو په وینا، دا هلکان تر موندل کیدو شل ورځې وړاندې د ښکار د پاره وتلي وه، کله چې مړي ومندل شول، پرې بې رحمه تشدد او جنسي تېری هم شوې و. د همدې نه ښونکی پیښې په غبرګون کې د انصاف او عدالت غوښتلو لپاره جانیخیل له مړیو سره د اسلام باد پر لور د یوه پرلت په موخه لایون پیل کړ. د پي ټي ایم مشر منظور احمد پښتین او محسن داوړ او یو شمېر نور فعالانو په غیرقانوني توګه په همدې پرلت کې د برخه اخیستلو له امله ونیول شول.
د پي ټي ایم مشران بیا د پنجابي پوځیانو په تکتیکي شاتګ سره د خبرو اترو او جوړجاړي له لارې زر خوشي شول.
د پنجابي پوځي استبلیشمنټ جیلونه د هغو شعوري مخکښو پښتنو مشرانو څخه ډک شوي، کوم چې د همدې ظالمونو او بېګناه صحرایي محکمو خلاف راپورته شوي دي. پاکستاني پوځي استبلیشمنټ د هغو پښتنو پر ضد مقدمې ایف اې آرونه درج کړي، کومو چې د بې ګناه وژنو لپاره د عدالت غوښتونکي دي او خپل مظلوم ولس ته د انصاف غوښتلو غږ اوچتوي.
د متضرو پښتنو او پي ټي ایم د وژل شویو مشرانو خپلوانو ویلي، د دوی مقدمې ځنډول کیږي او رسماً په قضایې ادارو کې نه درج کیږي، ځکه دوی په خپله قاتلین دي.
د غورځنګ مشر پښتین وایې، ارمان لوڼی په قصدي ډول د هدفي وژنې ښکار ګرځیدلی دی. هغه د پاکستان امنیتي ادارې د سلګونو ناروا وژنو ذمه وار ګڼې. د ارمان لوڼی مور بخت بې بې ویلي: زه له پښتنو غواړم، چې دا مبارزه پرې نږدې، د منظور پښتین او محمود خان تر شاه ودریږۍ، د ارمان ارمانونه راپوره کړۍ، سره یو ځای ودریږۍ.
موږ وینو د پښتنو په سیمو کې یو ځلې بیا د پښتنو هدفي وژنې زیاتې شوي دي. د پاکستان حکومت د هدفي وژنو پر وړاندې چوپتیا غوره کړې ده. د همدې هدفي وژنو پر وړاندې د پاکستاني حکومت چوپتیا د دې ښکارندویې کوي، چې دا وژنې د حکومت لخوا طرحه کیږي یا خپله په کې لاس لري.
پوښتنه دا ده، چې په هدفي وژنو باندې پاکستاني ریاست ولې غلې دی؟ په کومه پېښه کې چې دوی ښکېل نه وي، هغه که ډیره کوشنۍ هم وي، د هغې لپاره عدالت وي. کله چې دوی په پېښه کې ښکېل وي، بیا دوی خپلې خولې بندوي، له دې پته لګیږي، چې دوی په دې وژنو کې ښکېل دي او په ښکاره لاس په کې لري.
د پنجاب پوځ وياند په سختو تکو کې دا خبر دارۍ ورکړي دی، چې نور د پي ټي ایم وخت ختم دی او ورسره زیاتوي، چې پي ټي ایم د افغانستان او هند د استخباراتي ادارو څخه مالي مرستې ترلاسه کوي. پنجابي پوځیان د دې خبر په خپرولو سره د پي ټي ایم د مشرانو د نیولو لپاره سیاسي حالات برابرول غواړي. جاهل پوځیان له دې نه خبره دي، چې د پي ټي ایم خلاف د حکومت د دې اقداماتو پایله کې په پاکستان کې د پښتنو پردیتوب او مرییتوب احساس لا نوره ډیریږي. له دې سربیره دوی د پښتنو سره د پښتنو په سیمو کې د ترهګرۍ ضد جګړې تر نامه لاندې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړۍ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـۍ

نه یوازې د پښتنو سره غیر منصفانه متشدد چلند کوي، بلکې هغوي سره زورزیاتي کوي، قصداً ځورول او نیول کیږي.
پنجابي پوځیان د پي ټي ایم مشرانو د نیولو په دې تاکتیک کارو سره غواړي، څو د پي ټي ایم په دننه کې خپله مشر منظور احمد پښتین منظوي کړي او هغه او د پي ټي ایم مشران سختدریځي ته اړ کړي. همدارنګه په ولس کې د پي ټي ایم د ریښو غځولو او د تنظیمي پراختیایي چارو مخه ونیولي وي. د پي ټي ایم مشران تل په دې ډول عمل او عکس العمل کې بوخت وساتي.
پنجابي پوځي استبلیشمنټ تل هڅه کوي، څو د پښتون ژغورني غورځنګ سیمبولیک او کرسیماتک مشر مخه ونیسي، د غورځنګ ځوان مشر او د تحریک نور مخکښو مشران څو ځلې بندیان کړي او ځورولي دي. د پي ټي ایم مشرانو بد نامولو لپاره پر دوی د غدارۍ او جاسوسي تورونه او ایف اې ارونه لګولي دي.

## د افغانستان تلپاتي سولې په اړه د پي ټي ایم دریځ او اغېز:

د پښتون ژغورني غورځنګ مشر په وزیرستان کې یوې غونډې ته داسې ویلي: زه د ټول پښتون افغان قام کیسه کوم، تر څو پورې په کابل کې امن نه وي راغلي، تر څو پورې په کندهار کې امن نه وي راغلي، تر څو پورې په پېښور کې، په وزیرستان کې او په کوټه کې امن نه وي راغلي. موږ ټول پښتانه له یو بل سره تړي یو، کله چې کابل ارامه وي، د موږ د وزیرستان او د پښتونخوا د ویش کارو بار ښه په خوند کې روان وي، کله چې هلته جنګ وي، دلته هم جنګ وي. پښتون قام یو ملت دی، که څوک مني او که نه مني.
مشر په خپلو ویناوو کې بیا وایي: موږ د وزیرستان خلکو ته او ټولو پښتنو ته د ګډې مبارزې بلنه ورکړو. ځکه موږ د یو سر تر بله سره یو ملت یو. څو که کله د وزیرستان د خاورې څخه کابل او پېښور ډزیدلي وي، دغه زموږ خلکو نه دي ډزولي، دا زموږ سوچ نه وه، موږ د هغې کلک مخالف یو، پردیو خلکو له دې ځایه د جنګ اډه جوړه کړې وه. زموږ او تاسو دښمنانو له دغې ځایه د جګړې اډه جوړکړې وه. موږ د ټول پښتون ملت په غم ژاړو، موږ د وزیرستان خلک ټولو پښتنو ته د اتحاد، اتفاق او سوله ییزې مبارزې دعوت ورکوو، ټول پښتانه د وزیرستان لپاره د یو ښکلي ژوند فکر لري. د مشر د بلې وینا له مخې، ګورئ، نن موږ او تاسو راپاڅیدلو، چې په وزیرستان کې دا مسئلې دي، ټول پښتانه زموږ سره ودریدل، پښتانه د امو څخه تر اباسینه، که دلته دي، که هلته دي، که په اروپا او که په چین کې دي، ټول پښتانه زموږ سره ودریدل. خیلیږم او قبایلیږم نور نه شته، پښتانه د خیلونو او قبیلو څخه د راوتولو په حال کې دي، له امونه تر اباسینه د یو لوی متحد افغان ملت په لور ګامونه اخلي، لر او بر نشته افغان یو دی.
د غورځنګ دیرش کلن مشر د خپلو خبرو پرمهال په ټینګار سره څو څو واري د پښتونخوا او په قبایلي سیمو کې امن، سوله او امنیت د افغانستان له امنیت سره ټینګ تړلی وبللي دي. د دې سربېر امن او سوله د کرښې دواړو غاړو کې د میشتو پښتنو پر اقتصادي وضعیت ښوالي او سوداګریزو اړیکو پیاوړي کولو باندې لوی اغېز لري.
په افغانستان کې د افغانانو لخوا د پي ټي ایم له ولسي خوځښت څخه تود هر کلی یوازې له دې امله نه دی، ګنې د خپلو پښتنو ورونو د بشري او بنسټیزو حقونو څخه د ظالم جابر پنجابي ریاست په وړاندې ملاتړ او دفاع کول دي یا د بشر پالنې له مخې یوازې یو غبرګون ښودل دي. د دې ملي ولسي خوځښت څخه د لرو او برو پښتنو افغانانو ملاتړ د خپلې ملي مفکورې او ملي داعیه څخه ملاتړ دی. د دې پښتني غورځنګ د عالي اوږد مهاله موخو سره د افغانستان ملي ګټې او تلپاتي سولې او ملي امنیت خبره تړلې ده. دا ټول هغه هینوونکي، جوړونکي او نښلونکي عنصرونه دي، چې د افغانستان پښتانه دې ته هڅوي، څو د پښتون ژغورني غورځنګ له ملي موخو څخه په کله ملاتړ او دفاع وکړي.
پښتانه افغانان پوهیږي، چې دښمن مو یو دی. د پنجابي پوځي استبلیشمنټ ژوره پښتون دښمنه ستراتیجي د لرو او برو پښتنو افغانانو لپاره یوه وژونکې زړه ناکامه ستراتیجي ده. د پي ټي ایم سیاست او پالیسي د جګړه ځپلي افغانستان پښتنو لپاره ډیره په زړه پورې او مهمه مبارزه ده. نن ډیرکې لر او بر پښتانه افغانان په دې اند دي، چې د پښتنو تاریخي بیرته یووالي د همدې ملي ولسي غورځنګ په لمن کې نغښتي دی او خپلو ملي او تاریخي موخو ته د رسیدو لار د پي ټي ایم له لارې په تعقیبولو کې ترسره کیږي.
د پښتون ژغورني غورځنګ د مشرتابه بل مخکښ مشر محسن داوړ د وینا له مخې، دوی به د پاکستان حکومت او په ځانګړې توګه د دې هېواد جنرالانو ته اجازه ورنکړي، څو نور د افغانستان خلکو او افغان حکومت خلاف جنګي او مخربې پالیسۍ، منصوبې او استعماري پروژې عملي کړي. هغه دا هم ویلي، د پاکستان حکومت افغانستان کې په جنګي مجرم تورن کسان پاکستان ته دعوت کوي او دلته ورسره د افغانستان ضد پالیسۍ جوړوي. دوی ته به د افغانستان د نظام خلاف د اقداماتو اجازه ورنه کړي، هغه زیاتوي، د پاکستان د حکومت دغه کار به ناوړه پایلې ولري، تر څو پي ټي ایم په پښو ولاړ وي، دغه کار ته به اجازه ورنکړي. ښاغلی داوړ تر دې وړاندې هم د افغانستان په تړاو د پاکستان حکومت پالیسیانې ننګولې دي.
د افغانستان د ملي ګټو او ملي حاکمیت په اړه د پي ټي ایم د مشرانو وروستی دریځونه بلکول معقول او پر ځای دي. د دوی دغه ملي دریځونه د کرښې په دواړو غاړو کې د واحد افغان ملت په تړاو د لرو او برو پښتنو افغانانو په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

فکرونو ځای نیولي دی. د پي ټي ایم څخه د برو پښتنو ملاتړ اړین دی او دا د پښتنو ترمنځ د یووالي ثبوت ښکارندویي کوي.
د پي ټي ایم وژل شویو مخکښو مشرانو سیاسي افکار او سیاسي هلو ځلو کې د احمد شاهي جغرافیې د بیا راژوندي کولو اراده او ارمان شتون لري. دوی په پښتنه ټولنه کې هر انسان ته د خپلو خدای ورکړي حقونو په چوکاټ کې د ټولنیز عدالت غوښتونکي دي. د بیلګې په ډول د شهید ارمان لوڼی افغانیت او اسلامیت ته بیساري وفاداري او د پښتون افغان ملت د ملي مبارزې بیرغ لوړ ساتل یادولي شو.

## د لر او بر یو افغان د نعرې لاندې د پي ټي ایم راټلونکې ستراتیجي:

د پي ټي ایم دې نعرې په پښتون افغان ولس کې د راتلونکې په اړه نوی هیلې راټوکولي دي. په لر او بر پښتون افغان وطن کې د مشر منظور احمد پښتین د ملي یووالي سیمبول ګرځیدلو لامل همدا د لر او بر یو افغان نعره ده. د پي ټي ایم مشران په خپل پښتني محور او ملي ستراتیجي کې په ریښتیني مانا سره د لر او بر پښتنو افغانانو د اتحاد، اتفاق او په یوه مرکز راټولو کې په یوه ځانګړي ځیرکتیا کې هلې ځلې کوي. له همدې امله پي ټي ایم ورځ تر بلې په افغان ولس کې پیاوړې کیږي. په ولسي خلکو کې اعتبار او محبوبیت مومي. منظور احمد پښتین وایي: د ظالم او د ظلم په ضد به زموږ مزاحمتي مبارزه همدارنګه جاري وي. پي ټي ایم به تر هغې پورې چې لر او بر پښتانه د خپلو حقونو او ارام ژوند ښتنان شوي نه وي، خپلې مبارزې ته به دوام ورکړي.
د پي ټي ایم ملي برخلیک ټاکونکې سوله ییزه مبارزه د ازغن تار سربیره د امو نه تر اباسینه پورې غځیدلې ده. دغه پښتني خوځښت د لرو برو پښتنو د سترو ټبرونو او قبیلو له ملاتړ څخه برخمن دی او پي ټي ایم کې د هرې پښتني قبیلې ننګیالي، ژمن او شعوري ځوانان شتون لري. دا ځکه چې دا ټول پښتانه د یوه جګړیز ناورین سره مخامخ دي.
د یوولسم د سپتمبر د پیښې راهیسې لرو او برو کې وژل، ټکول، نیول او تری تم کول د ټولو پښتنو د ورځینې ژوند یو برخه ګرځیدلې ده. خلک د ډیورنډ کرښې په دواړ خواو کې په کلیوالو سیمو کې د دولتي مرستو د ژوندانه له لومړنیو له اسانتیاوو بې برخې شوي دي او لرو برو پښتنو د پنجابي او امریکایي پوځیانو د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې ستر ستر تاوانونه ګاللي دي.
د پي ټي ایم مشرانو او فعالینو د شکنجه کولو، نیولو، وژلو په غبرګون کې نه یوازې په افغانستان کې بلکې په ګرده نړۍ کې د پښتنو افغانانو لخوا سخت غبرګونونه وښودل شول، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د پي ټي ایم د وژل شویو مشرانو غیبي جنازې ترسره شوې، په زرګونو خلکو په دې جنازو کې ګډون وکړو. د پي ټي ایم د مشرانو د وژل کیدلو او نیولو په غبرګون کې د نړۍ په ډیرو سترو ښارونو کې احتجاجي لاریونه ترسره کیږي. پي ټي اېم په اروپا کې د ملګرو ملتونو مرکزي دفتر، د اروپایي ټولنې پارلمان او د بشري حقونو کمیسیون، د بښنې نړیوال سازمان، د بشري حقوقو د څار سازمان مخې ته د پښتنو د بشري حقونو غږ وچت کړي دی او د پي ټي ایم د مشرانو ناروا وژنې او غیر قانوني نیونې په وړاندې پر نړیوال کچ انلاین غونډې، ویبینارونه او سیمینارونه تر سره کړي. همدارنګه د نړیوالې ټولنې د سیاسي، حقوقي سازمانونو لخوا دغه د بشریت ضد جنایت ناروا ظلمونه په سختو ټکو کې رسماً وغندل وشول او د پاکستاني ریاستي پوځي اونیفورم لرونکو قاتلینو ته د سختو سزاګانو غوښتنې شوې. د پي ټي ایم څخه د بهر میشتو پښتنو افغانانو ملاتړ د دې لامل شو، چې د نړیوالو رسنیو، نړیوالو بشري حقونو سازمانو پام دې ولسي غورځنګ ته راواړول شي.

## د پښتون ژغورنې غورځنګ د مشرتابه عامه پوهاوي، پر خپلځان او نفس باورمنتوب:

قبایلي پښتانه او خودمختاره قبایلي سیمه (فاټا) د حکومت په اداري چوکاټ کې د اوویا کلونو راهیسې د برتانوي کولونیالیستي استعماري ځواک د وېش په تسلسل کې تر اوسه مستقیماً د پنجابي پوځي استبلیشمنټ تر کنټرول لاندې په انزوا کې ساتلي شوي. قبایلي پښتانه د فاټا په سیمه کې د انګریزانو او هم د پنجابي پوځي پالیسیو کې د پښتون پښتون ترمنځ د یو ډبرین دیول یا اوسپنیزې پردې په څېر کاریدلي دي. له دې توکمي ظالمانه ویش سره د دوی ازاد ګټ راتګ محدوده شوي دی. له بهرنی نړۍ سره د قبایلي پښتنو هر دول اړیکې د پوځیانو او ای اس ای استخباراتي شبکو له لوري کنټرولیږي او سانسوریږي. له همدې امله د پښتنو قبایلي سیمه د پښتنو د ټولو سیمو په پرتله بې وزلې سیمه ده. دلته د ۹۰ سلنې څخه ډیر خلک نالوستي دي. په خپله مورنۍ ژبه نه لوستي او نه لیکل کولي شي. په قبایلي سیمه کې د پښتنو وضیعت بې حده ناهیلي کونکې او مایوسه کونکې دی.
په داسې یو جګړیز او ورسته پاتې چاپیریال کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د ځوان منظور احمد پښتین په مشرۍ کې رامنځ ته شوي دی. د غورځنګ مشر ویترنر ډاکټر منظور احمد پښتین یو متواضع، عاجز، یو ریښتینې صادق مسلمان پښتون افغان دی. هغه د ژوند یوه ساده ژوند بڼه لري. هغه له دې امله په لرو برو پښتنو کې یو مجبوب، مجرب، زړور کریسماتیک ملي شخصیت دی او هغه د خپلې سرې خولې سره د ټولو پښتنو د پاڅونې غورځنګ سیمبول ګرځیدلي دی. هغه د هر نارینه او ښځینه پښتون په ذهن کې یو انقلابي زړور مشر دی. هغه په عام محضر او په غونډو کې په ځانګړي ډول د خپلو خبرو او وینا کې د سپینو سپینو خبرو له لارې عام ولس ځانته راماتوي. د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه په وېناوو کې او د هغه د کړنو په درکولو سره د غونډې اوریدونکي په ریښتيني توګه ځان له هغه سره عملاً په یوه پښتني اتحاد او یووالي کې احساسوي.
هممهاله خلک یا اوریدونکي هغه ته د یو ځانګړي پیغام راوړونکي یا الهام بښونکي شخصیت په څېر ګوري. د مشر په وېناوې کې تل یوه ستره مانا شتون لري. مشر تل په وېناوو کې او خبرو اترو کې یا د افهام او تفاهیم یو ځانګړي مناسب فورم کاروي. له دې کبله د مشر خبرې او وېناوې په زوړ، ځوان، نارینه او ښځینه باندې ښه اغېز شیندي او د هغه د غورځنګ غوښتنې، مفکورې او نظریات پښتانه سره نږدې کوي. د مشر په وېناوو کې تر ټولو غوره او مهمه موضوع دا ده، څوک چې ظلم کوي خلاف یو، هغه که پوځي، که کوډ طالب او که بد طالب دی، خلاف یو. مشر د ټولو مظلومو قومونو خبره هم کوي. د غورځنګ مشر په یوه کلک درېځ سره د ټولو پښتنو افغانانو خبرې کوي. مشر د ټولو لرو او برو پښتنو افغانانو د بشري حقونو خبره کوي. مشر د ټولو پښتنو دښمن ته ګوته نیسي. د غورځنګ سرې خولې لرونکی مشر له دې خبرو او کړنو سره د هغه پرخپلځان او نفس باندې باورمنتوب په ښکاره ثابتیږي. هغه د ټولو مظلومو او ښوزلو پښتنو افغانان د حقونو خبره کوي، هغه د غورځنګ نوم د پښتون ژغورني غورځنګ ایښودلي دی. مشر په خپلو وېناوو کې هڅه کوي، څو د پښتنو سترګې د دښمن روانو ظالمونو او جګړیزو پروژو په اړه ورخلاصې کړي. لر او بر پښتانه ورته راوېښ کړي. مشر په دې خبره ښه پوهېږي، چې څنګه تقسیم در تقسیم ویشلي پښتانه افغانان سره یو موټې کړي. له همدې امله د پښتنو نارینه پالې ټولنې ته په کټو سره په غورځنګ کې د ښځو ونډه ډېره درنه شوې ده. په غورځنګ د ښځو رول ډېر مهم ګرځیدلی دی. وسمهال ټولو لرو برو افغانانو پښتنو په سرې خولې مشر باندې اعتماد او باور کړي، چې هغه به د پښتنو پښتون احساس نه خاوړې کوي. هغه په خپلو سترګو د پښتنو ټول له دردونو ډک ناوړه وضعیت لیدلی دی، چې څنګه پنجابي پوځیانو لوی وزیرستان د افغانستان د ځلوېښت کلنې جګړې لپاره د بهرنیو جنګیالیو لپاره د ټرنینګ مرکز او یوه د حکومتي قانون تېښته سیمه ګرځولې. د دې ټولو جګړیزو ناورینو او په سیمه کې د شته وسلو سره سره دې قبایلي غورځنګ مذاحمتي او غیر پارلماني مبارزه د دریو کلونو. راهېسې په سیستماتیک او مسلسل ډول د بې تاوه پاڅون یا د عدم تشدد تګلارې خپله کړې ده. که څه هم د غورځنګ ځینې ملګري د متشددې یا قهرجنې مبارزې خبرې یا پلوي کوي، خو غورځنګ تر اوسه د سیاسي کړکیچ په حلولو کې د دښمن په وړاندې په متشدده مبارزه یا په تاوتریخوالي لاس نه دی پورې کړي. پي ټي ایم پرته له تاوتریخوالي په سوله ییزه توګه خپل مذاحمتي مقاومت ته دوام ورکوي. پي ټي ایم په خپلو اسلامي مذهبي مقدساتو او ایماني موتقداتو باندې ټینګ باور لري او ورسره سوله ییزه مبارزه پر مخ بیایي. پي ټي ایم تر اوسه د عامه پوهاوي له لارې د سیاسي کړکیچ په حلولو کې پر خپلو ملاترو او پلویانو د قهرجنې مبارزې پرته د سوله ییزې یا عدم تشدد مبارز له لیارې خپل اغیز شیندلي دی.

## ټولنیزه پایه:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه ټول پوهه پښتانه ښه پوهېږي، چې د اوویا کلونو جنګ جګړو راهېسې دا د لرو برو پښتنو یوه سیاسي او تاریخي اړتیا وه، څو په پښتنو کې یو غیر ګوندي، مذاحمتي ولسي ملي تحریک رامنځ ته شو. څو په دا دومره شور ما شور کې د غفلت په خوب کې ځینې ویده پښتانه له اورده خوبه راوېښ کړي. پي ټي ایم په خپلې درې کلنې سوله ییزې مذاحمتي او غیر پارلماني مبارزې تاریخ کې د لوی افغانستان په لر او برو پښتنو افغانانو په راوېښولو کې، د افغانانو د سیاسي، حقوقي، جغراقیي ټولنیز، ولسي شعور رابیدارولو کې، د پښتنو ,, زموږ پښتني احساس,, په راوېښولو کې، وده ورکولو کې او د لرو برو پښتنو یو نوی ستر فکري انقلابي عصر یا د پښتنو فکري رنیسانس پیر پیل کړي دی. پي ټي ایم د پښتنو بشري حقونو او غوښتنې لپاره نه یواځې د سترو ولسي غونډو، احتجاجونو، لاریونونو او پرلتونه تر سره کړل، بلکې پي ټي ایم د لر او بر پښتنو په راوېښولو کې او د افغان ملت د ملي تاریخي فلسفي په پوهاوي کې، پښتنو ته پر امنه او هوسا ژوندون غوښتلو کې ستر ستر پرمختګونه او لاسته راوړنې لري. په دې ورستیو څو لسیزو کې د پښتون ژغورني غورځنګ د پښتنو د ملتپالنې او یووالي په تاریخ کې یو تر ټولو ستر ځوان، پیاوړي، فعال شعوري ولسي بیساری ویښ غورځنګ پیژندل کیږي. وسمهال دا غورځنګ د عصر او زمان د غوښتنو سره سم د تنظیمي نظم او پراخبنسټه ولسي ملي غورځنګ کیدلو په حال کې لیدل کیږي.
PTM is a Grassroots Movements: پي ټي ایم لکه د ځمکې لاندې د واښو ریښو په څېر مخ پر وده یو وده کونکی حرکت دی. پرتله شکه د پي ټي ایم تحریک د پنجابي پوځی استبلیشمنټ له ګواښونو سربیره د سترو تنظیمي او سیاسي ننګونو او ستونزو سره هم مخامخ دی. پي ټي ایم باید خپل تنظیمي جوړښت لا ګړندي پراخه ولسي کړي. پي ټي ایم باید د راتلونکي په اړه لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه طرحه کړي. پي ټي ایم باید د لرو برو پښتنو افغانانو لپاره دریو سترو جرګو لاره خلاصه کړي. یوه ستره جرګه په پښتونخوا کې، بله په افغانستان کې او یوه تر ټولو ستره جرګه د ټولو پښتنو افغانانو ملي جرګه راوغواړي، څو د پښتنو افغانانو بنسټیزه پوښتنې، غوښتنې او د سترو تاریخي ستونزو حل په کې راوېستل شي.
دا یوه منلې خبره ده، چې د پنجابي پوځی استبلیشمنټ په مرسته او ملاتړ روانه ترهګري د ډیورنډ استعماري کرښې سره مستقیماً تړاو لري. تر څو د پښتون پښتون ترمنځ د ډیورنډ توره کرښه شتون ولري. د پنجابي پوځی استبلیشمنټ دولتي ترهګري به زموږ په خاوره کې روانه وي، په دې ترهګریزه جګړه کې به له امونه تر اباسینه د افغانانو

سرونه وهل کيږي، ښارونه، تاريخونه او د پښتنو افغانانو عزتونه به تباه کيږي. د پاکستاني ترهګر رياست شتون او بقا ضمانت په ترهګري کې ده. پنجابي جرنېلان ترهګري ته اړتيا لري. ټول پښتانه افغانان بايد دې ترهګري په وړاندې بايد په ګډه ودريږي.

په ټوليزه توګه که د پي ټي ايم اوسنۍ بنستيزې موخې په ځېر سره وڅېړل شي، دغه غورځنګ د ترهګري پر ضد د پښتون افغان ولس د راويښولو او په سيمه کې د سولې لپاره مبارزه کوي، ځو پښتانه د پنجابي استعمار په وړاندې ودريږي. پي ټي ايم د پښتون افغان ملت د مظلوميت او محکوميت غږ په ټوله نړۍ کې اوچت کړي دی. قامونه يا ولسونه په سترو ژورو فکرونو، په پياوړو سياسي تاريخي ارادو او په بيسارو قربانيو ازادېږي. مظلوم ولسونه په ولسي لوړو فکرونو او په لوړو سياسي شعوري ارادو او پريکړو خپلواکه کيږي. نن زموږ په ستره لرغونې پښتنه ټولنه کې خونړيو کړکيچونو ته په کتو سره پي ټي ايم د پښتنو يووالي او خپلواکې لپاره يو تر ټولو بهترين ولسي پلټفورم ګرځيدلي دی، ځکه دا غورځنګ د ټولو لرو برو پښتنو افغانانو د حقونو او د يووالي لپاره مبارزه کوي. د تحريک اصلي موخه پښتون ته په خپله خاوره کې خپل اختيار غوښتل دي. پي ټي ايم دا ثابته کړه، چې. پښتانه د قبايليت څخه د يو لوی خپلواک واحد او متحد ملت په لور ګامونه اخلي. پي ټي ايم د لرو برو پښتنو افغانانو يوه قومي فيصله ده. پي ټي ايم د ټول پښتون افغان وطن خبرې کوي، موږ مجبوره يو د خپل ولس او راتلونکی نسلو د بقا او ارتقا لپاره د پنجابي پوځي استبليشمنټ په وړاندې په ګډه ودريږو، پښتانه پوهيدلي دي، که د زماني توفانونو مخې ته په ګډه ونه دريږو، بيا ورو ورو ورک کيږو. پي ټي ايم د پښتنو د بې اتفاوتي او بې تفاوتې په سلسل کې سره راپورته کړي دي. پي ټي ايم د جګړې ضد يو تحريک دی او د پښتنو د عدم تشدد يو سوله پال ولسي غورځنګ دی. دا يوه ثابته خبر ده، چې په پاکستان کې د پنجابی پوځيانو له خوا پر پښتنو باندې سخت ظلمونه او په بيساري توګه سختې ځورونې او ظالمانه تشدد ترسره شوي دی. د پي ټي ايم ټوله مبارزه د پښتنو راويښولو لپاره او په پاکستان کې د ټولنيزو بې عدالتيو پر وړاندې مبارزه کول دي.

نن د لوی وزيرستان، د اورکزيو، باجوړ او باړۍ بازارونه قصداً کندو کپړ وران ويجاړ کړل شوي دي. ښکلی سوات سوځيدلي دی، پنجابي پوځيانو د بونير غرونه نيولي، ځو هلته خپلو ترهګرو ته جګړييز ترينينګونه ورکړي. له کويټې څخه تر سوات د پنجابي پوځيان قبضې رواني دي. د چمن، تورخم او غلام خان په لارو باندې د پيړيو پيړيو راهيسې افغانان پښتانه، کوچيانو خپل ازاد تګ راتګ درلود، اوس پنجابي پوځيان ورته په ولاړه کې ولاړ دي، د بې وزلو پښتنو ناروغانو، ښځينه، بوډاګانو او د پښتنو ماشومانو سره د ټولو نړيوالو منل شويو قوانينونو او اصولو خلاف ناوړه چلند پيل کړي دی، د پښتنو څخه په خپله خاوره کې پنجابی پوځی ويزې غواړي. د چمن په لاره کې ماشومان وژل کيږي، په شمالي وزيرستان کې هدفي وژنې رواني دي. پښتانه قبايل يا د پښتنو قبيلې له يو بل سره جنګول کيږي، د اغزن تار له امله په ميليونه پښتانه بې ځايه شوي دي. ۶۵ زره پښتانه ژوندي ورک او ترې تم شوي دي، په لر او بر کې په لکونه پښتانه افغانان وژلي شوي دي. پښتانه د ترهګر په نوم بې ګناه وژل کيږي، ځوک د پوښتنې نه وه. لنډه دا چې په پاکستان کې پښتانه سخت ځپل شوي دي.

کله چې چا د دې ظالمونو خلاف غږ راپورته کولو، امن او ټولنيز عدالت غوښتلو يا د خپلو وژلي شويو خپلوانو خبره يې کوله، هغه به هم وژل کيدلو، جيل ته به ليږل کيدلو. په داسي يو بد حالت کې پاکستاني پوځيان خپل ترهګر تمويلوي، پاکستان کې ترهکر خپل ازاد ګرځي، ترهګرو ته د رياست لخوا سهولتونه برابريږي، همدغه پاکستاني ملکي او پوځي رژيم د پښتنو وژلو لپاره په سيمه کې اجرتي قاتلانو ساتلي دي او د هغوي سره ډيره ښه ملګرتيا لري. پنجابي پوځيان اوس هم د سويلي قبايلو امنيتي چارې خپلو مليشو يا په سيمه کې خپلو مقامي امن کمېټو ته سپارل غواړي.

د پي ټي ايم غورځنګوال وايي: خبر دې وي دښمن، ګور ته به يو سي دغه ارمان، موږ نه شي بيلولي، يو بچې د ميرويس خان لر او بر يو افغان، نن د کابل، پيښور، خيبر، کويټې او کويټې شعوري وبښ پښتانه د سره يو ځای شوي، بيا دې تور منافق دښمن خبر وي او وپوهيږي، چې زورور پښتانه سره يو ځای شوي دي. د پښتنو ځوانانو لښکر جوړې دی، پښتون ته خپل حقوق، سوله او ژوندون غواړي.

د دې ټولو ربړو ستونزو حل د پښتنو په يووالي کې نغښتي دی. پښتانه کې د استعماري کرښې ديخوا دي، که ها خوا دي، پښتون پښتنون دی، پښتانه يو دي، نور په قبيلو او خيلونو نه ويشل کيږي. که په افغانستان کې جګړه ختمه شو، دا ټوله خطه به ترقي وکړي، که دلته جنګ لګيا وه، په دې خطه کې بيا ځوک هم مختته نشي تللي. تر څو د افغان خاوره په جنګ وي، ترهغې به ټوله خطه په کې لګيا وي، د مشر په وينا .

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ